## راغلـــــي نا بللـــــي

خپل ځان او بل پرې وژني خو وسلې پردۍ پــردۍ دي
سرونــــه يــي غټ غټ خو ارادې پــــردۍ پردۍ دي

پــوهېــــږم لـــــه مېـــــړاني را وتــلي ياسـت ډېر ته
شپـــه ورځ ســــرونه ښـنديځ خو نقشې پردۍ پردۍ دي

ډېــر مــــه ورتـــــه ګډېـــږه را نسکور به شي کمبخته
نڅـــــاد ډېـــــره وکـــــړه خـــونغمې پردۍ پردۍ دي

د لـــــوی دښـــمن مزدورو هم مو وژني هم پـرې نازئ
بـــاور پـــرې کـــوئ تاسوخو وعدې پردۍ پردۍ دي

سبـــا بېـــګا لګيــــا درتـــــه راوړي دکـــرکې توري
منــــم، کاتبـــــان ستـــــادي خوکيـــسې پردۍ پردۍ دي

دا تاســــو يي چې ښځې پکې زهرجنې غوندې ښکاري
شـــــراب به مــــو دځان وي خوپيالې پردۍ پردۍ دي

ور واچـــــوه واســـــکټ دي چې اســــتاد دي جنتي شي
زمـــــوږ په قبرســــتان کې خو جنــډې پردۍ پردۍ دي

دا نـــــه وينـــــي، چـــــې زانګې بېګنـــاه پاس په هوا کې
ســــــرونه دي زمـــــوږ خو غرغرې پـــردۍ پردۍ دي

د خـــــدای لوی جهان تنګ کړې لکه سپم دوږې ستنې

زاهد مو کليوال خو موسلې پردی پردی دي

قومي مشران راوژني طبيبان او معلمان هم

جامې يې زموږ په شان دي خوښرې پردی پردی دي

لس کاله شوو، چې خوب مو يوه شپه هم سم ونه کړ

باندې زموږه خپلې خو چاپې پردی پردی دي

جانانه څه چې جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې

په دې کلابند ښار کې خو ګزمې  پردی پردی دي

پخپلو کې موږ هيڅ وخت سره لاس اوګرېوان نه وو

دورونو قومو مينځ کې خوفتنې پردی پردی دي

دعلم او معرفت په ځای يې سره اورونه راوړل

يو بل تورنوو خو دسيسې پردی پردی دي

تنکي تنکي ګلان راماتوي دوی در  په در کړې

په لر بر پښتونخوا کې خوحملې پردی پردی دي

زموږ دکلي مينځ کې نړيواله جګړه پيل شوه

هستي مو دبابا ده خوتوبرې پردی پردی دي

له سلو قصابانو غوا مرداره شوه هغه ورځ

دوی هر يو ښه ماهر و خو چړې پردی پردی دي

پرون يې دکرزي ترړيره لاندې بارخر تېر کړ

داته څلوښتوملکو خو پهرې پردیپردی دي

راغلي نا بللي دې خدای ژرله سيمې ورک کړي

بسمله ملک زموږخو ادارې پردی پردی دي

درنولوستونکو!

که غواړئ، چې پورتنی شعر په مصوير ډول وګورئ نو بيا دا لاندې لينک کښېباسئ :

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/16583